د ۲۰۰۹ کال د مې میاشت

له دوو لسیزو جګړو وروسته په افغانستان کې لوی سیاسي، اقتصادي، او ټولنیز بدلونونه هغه مهال رامنځ ته شول چې نوموړي هېواد ته په ۲۰۰۲ کال کې د نړیوالو پاملرنه واړول شوه. **تر اوسه پورې پرمختګونه د بریاوو هڅونه کوي خو لویې ننګونې لا پر خپل ځای پاته دي.**

د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژي (تګلاره) د ۲۰۰۸ کال اپرېل میاشتې په ۲۱مه نېټه د افغانستان جمهور رییس حامد کرزي له خوا توشیح شوه. ددې ستراتیژۍ پر بنسټ، مرستندویه هېوادونه به د خپلو مرستو د پام وړ برخه د افغانستان د اسلامي جمهوریت د دولت له لارې ولګوي. داسې لمړني ګامونه اخستل شوي ترڅو د جون په میاشت کې یو نړیوال کنفرانس د پاریس په ښار کې راغونډ شي او په هغې که به دا ستراتیژي مرستندویه هېوادونو ته وړاندې او وروپېژندل شي. دولت د هېواد د امنیتي، اداري او پرمختیایي اړتیاوو د هراړخیزه پوره کولو لپاره یوه پنځه کلنه ستراتیژي جوړه کړې ده. دا ستراتیژي د افغانستان د دولت دهغه ژمنوپه هکله د دولت د لرلید، اصولو او موخود ښکاروندیه ده چې تر ۲۰۲۰ کاله د زرمې د پرمختیایي موخو د رښتنیتوب او د افغانستان د توافق لیک د معیارونو د پلي کېدو په هکله شوې دي. د افغانستان توافق لیک د هغو سلا مشورو په پایله کې جوړ شو چې د افغانستان دولت او ملګرو ملتونو او نړیوالې ټولنې تر منځ په ۲۰۰۶ کال کې د لندن په کنفرانس کې وشوې او په راتلونکو پنځو کلونو کې د افغانستان سره نړیوالې مرستې لپاره د یوه چوکاټ حیثیت لري. د افغانستان توافق لیك د هغې د تړون کوونکو د سیاسي ژمنو ښکاروندی دی او کوم حقوقي میثاق ندی.

له ۲۰۰۲ کال راهیسې، له ۶ میلیونه څخه زیات ماشومان ښوونځیو ته راغلي دي او د هېواد اقتصاد خپلې ودې ته ادامه ورکړې ده. په ۲۰۰۷/۲۰۰۸ کال کې د اقتصاد وده کابو ۱۳,۵ په سلو کې ده. خو اوس هم ډېرئ شمېر افغانان په ډېرې بېوزلۍ کې ژوند کوي او صحي د څښاك اوبو یا برېښنا ته لاس رسی نلري او د خپل ژوند د ښه توب فرصتونه یې لاندي ترلاسه کړي.

هغه ناپېیلی ارزونه چې د جان هاپکین د پوهنتون له خوا ترسره شوه، ښیي چې له ۲۰۰۴ کال څخه تر ۲۰۰۷ کال پورې د روغتیایي خدمتونو کیفیت ۳۲ په سلو کې زیات شوی دی او د هغه ناروغانو شمېره چې روغتیایي خدمتونو ته یې لاس رسی پیدا کړی تر دریو ځلې ډېره اوچته شوې ده. همدارنګه د کورنیو ناپېیلې سروې چې په دې وروستیو کې د نوموړي پوهنتون له خوا وشوه، ښیي چې په افغانستان کې له ۵ کلونو څخه د کوچنیو ماشومانو د مړینې اټکلي کچه چې په ۲۰۰۱ کال کې په زرو ژوندیو زېږېدنو کې ۲۵۷ تنو ته رسېده، په ۲۰۰۶ کال کې په زرو ژوندیو زېږېدنو کې ۱۹۱ تنو ته راټیټه شوه. دا ټیټوالی په دې مانا دی چې د طالبانو د وخت په پرتله اوس د ماشومانو د کلنۍ مړینې په کچه کې کابو د ۸۰۰۰۰ په شمېر کمښت راغلی دی.

یوازې ۱۳ په سلو کې افغانان د څښاك صحي اوبو، ۱۲ په سلو کې کافي روغتیایي آسانتیاوو او ۶ په سلو کې برېښنا ته لاس رسی لري د ملګرو ملتونو د خوراکي توکو او کرهنې د اداري له خوا داسې انګېرل کیږي چې د شا او خوا ۲۶،۶ میلیونه افغانانو له ډلې څخه، کابو ۷۰ په سلو کې خلك د خوراکي توکو له اړخه ډېر

ناخوندي دي. يوازې ۴۰ په سلو کې ښوونځي ودانۍ لري او د هېواد ډېرۍ عمومي سړکونه بیاجوړنې ته اړتیا لري. د عمر د تمې اوسط ۴۳ کاله دی ( چې په پرتله یې په نورو لږ عاید لرونکو هېوادونو کې ۵۹ کاله دی).

**نړیوال بانک او افغانستان**

افغانستان په ۱۹۵۵ کال کې د نړیوال بانک غړیتوب ترلاسه کړ. په افغانستان کې د پخواني شوروي د یرغل څخه وروسته نړیوال بانک خپل فعالیتونه په افغانستان کې وځنډول او په کابل کې یې خپل دایمي دفتر وتړلو خو دې بانک په ګاونډي هېواد پاکستان کې د خپل دفتر له لارې د افغانانو سره خپلو مرستو ته دوام ورکړ. نړیوال بانک په افغانستان کې د ۲۰۰۲ کال د مې په میاشت کې په افغانستان کې خپل فعالیتونه له سره پیل کړل ترڅو د خوارانو د بېړنیو اړتیاوو په پوره کولو کې مرسته وکړي او همدا راز ددولت سره مرسته وشي ترڅو د ټول هېواد د اوږد مهاله پرمختیا لپاره د اړینو اداري سیستمونو پراختیا ترسره شي.

له ۱۹۷۹ کال څخه وړاندې، نړیوال بانک افغانستان ته ۲۱ د ګټې پرته پورونه (کریډټونه) په بېلابېلو څانګو کې لکه د پوهنې، سړکونو او کرهنې په سکټورنو کې افغانستان ته ورکړي وو. د ۲۳۰ میلیونه امریکایي ډالرو کرېډټ له ډلې څخه د نړیوالې پرمختیایي اداري له خوا منظور شوي وو، ۸۳ میلیونه یې ورکړل شوي وو او ۱۴۷ میلیونه یې وروسته لغوه شول. افغانستان ۹۲،۲ میلیونه امریکایي ډالره نوموړې اداري ته بېرته ورکړل او د ۱۹۹۲ کال د جون تر میاشتې پورې یې په خپلو تادیاتو کې وروسته والی نه درلود. خو له نوموړې میاشتې وروسته یې خپل تادیات په ټپه ودرول.

په ۲۰۰۳ کال کې افغانستان وکولای شول چې د نړیوال بانک څخه خپل پورونه تصفیه کړي چې تر یوه ځایه پورې د جاپان، بریټانیې، ناروې و ایټالیا هېوادونو پدې هکله مرسته وکړه. نورې وجهې د افغانستان بیا جوړونې له صندوق څخه چې د مختلفو بسپنه ورکوونکو له خوا جوړ او د نړیوال بانک له خوا اداره کیږي، ورکړل شوې ترڅو د دې پورونو په تصفیه کې مرسته وشي. په دې توګه افغانستان وکولای شول د هغه پروژو لپاره د پورنو او وړیا مرستو د اخستلو جوګه شي چې موخه یې ددې هېواد د اوږد مهاله پرمختیایي اړتیاوو پوره کول ده.

د افغانستان د بیا جوړونې صندوق د هېواد د جاري بودیجې د تمویل او په افغانستان کې د پانګه اچونې د مرستو له پاره د لویې سرچینې په څېر ځانګړتیا موندلې ده چې تر اوس مهاله له ۴.۲ میلیارډو څخه زیات امریکایي ډالره د ۲۷ تمویل کوونکو مرجع ګانو له خوا دې صندوق ته ورکول شوي دي.

له ۲۰۰۲ کال راهیسې، نړیوال بانک د ۳۷ پروژو لپاره کابو ۱،۶۵ میلیارډه ډالره ژمنه کړې ده. پدې مبلغ کې له یو میلیارډ ډالرو څخه زیات د وړیا مرستو ژمنې او ۴۳۶،۴ میلیارده ډالره بې ګټې پورونه یا کرېډټ ګڼون لري. د بودیجې د پیاوړتیا درې فعالیتونه او عامه فواید، بنسټ جوړنې او اقتصادی بیا جوړونې پروژې او همدارنګه د کلیو پراختیا او عامه اداري د پروژو لمړۍ مرحلې بشپړې شوې دي. په ۲۰۰۹ مالي کال (د ۲۰۰۸ له جولای څخه بیا د ۲۰۰۹ کال تر جولای پورې) کې به د ۲۷۰ میلیونه امریکایي ډالرو ژمنه به په بشپړه توګه

وړیا مرسته وي. د نړیوال بانك تمویل شوې ډېرې پروژې د کلیو د خلکو ژوند داسې پیاوړی کوي چې د کارموندې موقع ګانې، د بنسټونو بیا جوړونه او د پوهنې او لمړنیو روغتیایي خدمتونو برابرونه کوي.

**د نړیوال بانك ستراتیژي:**
د ۲۰۰۶ کال د مې په میاشت کې، د نړیوال بانك اجرایوي بورډ د افغانستان لپاره نوې موقته ستراتیژي وڅېړله چې د هغې پر بنسټ به ددې بانك فعالیتونه په راتلونکو دوو کلونو کې سرته ورسیږي او د افغانستان د ملي پرمختیا د موقتې ستراتیژۍ سره همغږي لري.

د موقتې ستراتیژۍ پر بنسټ د نړیوال بانك مرسته د هغې د انتقالي حمایت له ستراتیژۍ سره لږ توپیر لري ترڅو د کلیو اقتصاد ته لازیاته پاملرنه وشي.

د موقتې ستراتیژۍ پر بنسټ، په پام کې ده چې د **۵۴۰** میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت وړیا مرسته په دوو کلونو کې ترسره شي چې د ۲۰۰۶ کال د جنورۍ په میاشت کې د نړیوال بانك د ۱٫۲ میلیارډه ډالرو ژمنې سره سمون لري.

**د نړیوال بانك ستراتیژي لاندې ټکو ته پاملرنه کوي:**
- د ظرفیتونو پراختیا او د دولت حساب ورکونه ترڅو مناسب، د لاس رسۍ وړ او کافي خدمتونه وړاندې شي.
- د کلیو د معیشت ښه والی او د کلیو د اقتصاد پیاوړتیا
- د رسمي، عصري او سیالیو وړ خصوصي سکټور وده

**د نړیوال بانك لاس ته راوړنې**
له ۲۰۰۲ کال څخه راپدیخوا، له ۶ میلیونو څخه زیات زده کوونکي او ښوونکي په افغانستان کې د ښوونځیو د ګډون د هغه کمپاین په پایله کې ښوونځیو ته راګرځېدلي چې مرستندویه مرجع ګانو ورسره مرسته وکړه. په ښوونځیو کې د زده کوونکو د ګډون شمېره د تمې څخه اوچته وه او نړیوال بانك د لمړنیو ښوونځیو او ښوونکو په روزنه کې مرسته کړې ده او همدارنګه د معارف او عالي تحصیلاتو د وزارتونو سره یې تخنیکي مرسته کړې ده.

**د ملي پیوستون پروګرام** او د کلیو د لارو **ملي بېړنۍ پروژه** د افغانستان د دولت د هغه مخکښو پروژو څخه عبارت دي چې د کارموندنې او سړکونو او نورو بنسټیزه آسانتیاوو د ښه والي لپاره په ټول هېواد کې پلي شوې دي. نړیوال بانك د ملي پیوستون پروګرام تر ټولو لوی تمویل کوونکی دی او تر اوسه پورې یې د افغانستان په **۳۴** ولایتونو کې تر ۲۰۰۰۰ د زیاتو کلیو د ټاکل شویو پرمختیایي شورا ګانو د فعالیتونو څخه ملاتړ کړی دی. له **۳۵۰۰۰** څخه زیاتې سیمه اییزه پروژې تمویل شوې چې له هغې ډلې څخه ۱۸۰۰۰ پروژې بشپړې شوې دي. کابو ۸۸ په سلو کې سیمه اییزې پروژې د بنسټونو لپاره دي لکه اوبه لګونه، د کلیو سړکونه، برېښنا او د څښاك اوبه چې دا ټول په کلیو کې د اقتصاد بیارغونې، ثبات او حکومتدارۍ لپاره ضروري دي.

**د کلیو د لارو ملي بیړنۍ پروژه** د افغانستان په کلیو کې د اساسي خدمتونو د برابرونې او وړاندې کولو لامل ګرځې. ددې پروګرام له لارې، له ۳۵۰۰ کیلومترو څخه زیات د کلیو سړکونه او ۶۰۰۰ متره د اوبو وتلو جوړښتونه، پلچکونه او پلونه ښه شوي دي. تر اوسه پورې ۸ هوایي ډګرونه په بېلابېلو ښارونو کې بیارغول شوي دي.

**د کوچنیو پورونو د خدمتونو د برابرونې او ادامې پروژې** په ترڅ کې ۱۲۴ میلیونه امریکایي ډالرو څخه زیات د مالي مرستو په څېر برابر شوي دي چې پکې ۸۳,۹۱ میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت پور هم شامل دی. اوس د کوچنیو پورنو ورکوونکي ۱۵ مؤسسې شته دي چې په ۲۳ ولایتونو کې تر ۲۶۱ زیاتې څانګې لري. همدا راز د ۴۲۲۰۰۰ څخه زیات د پور او سپما بیپاران (مشتریان) شته دي. د مشتریانو په سلو کې ۶۵ ښځې دي او د بیاورکړې اندازه څه نا څه په سلو کې ۸۵ ده. دغه سکتور اوس له ۴۲۰۰ زیاتو افغانانو ته د کار زمینه برابره کړې او تر ۶۱۰ زیات افغانان د کوچنیو پورونو په سکتور کې روزل شوي دي. دا سکتور په مجموع کې له مخکې نه خپل په سلو کې ۹۰ لګښت له خپلو فعالیتونو د عوایدو څخه برابروي. د کوچنیو پورونو د ورکړې څلور مؤسسې همدا اوس کولای شي چې په خپل لګښت فعالیت وکړي او تمه ده چې د مایکروفینانس نورې ادارې به هم د ۲۰۰۸ م کال تر پایه پورې په خپلو پښو ودرېږي.

د سالنګ تونل بیارغونې کار د ۲۰۰۴ کال د جولای په میاشت کې بشپړ شو چې دا ۲,۷ کیلومتره اوږد تونل په سالنګ کې له دوارو خواوو څخه د ترافیکو پر مخ خلاص شو. د یادونې وړ ده چې دغه لاره له ۱۹۹۷ کال راپدې خوا بنده وه. همدارنګه باید یادونه وکړو چې د سالنګ تونل په نړۍ کې ډېر لوړ تونل دی چې د کابل ښار د شمال له اتو ولایتونو او د تاجکستان او ازبکستان له هېوادونو سره نښلوي.

**د دولت د مخابراتو شبکه** پرانستل شوه او د هغې په واسطه د انټرنټ او غږیزه مخابراتي خدمتونو لاس رسی لکه د لېرې واټن او نړیوالې اړیکې د دولت تر ۳۰۰۰۰ څخه زیاتو کارکوونکو د پاره په کابل او هېواد په ولایتونو کې برابرېږي. د راډیویي طیف د نظارت نوی سیستم په افغانستان کې د راډیویي طیف د مناسبې کارونې د پاره نصب شو. د هېواد ټول ولایتي مرکزونه اوس د دولت د ریاست او وزارتونو له مقاماتو سره په کابل کې د ویډیویي کنفرانس له لارې اړیکې ټینګوي. همدارنګه د ولایتونو د والیانو د مخابرو شبکه اوس د دولتي مخابراتي شبکې د بنسټ څخه کار اخلي.

سره لدې چې په افغانستان کې د سوداګرۍ چاپېریال نور هم وران شوی چې نوموړې هېواد ته د مستقیمې بهرنۍ پانګه اچونې مخه یې نیولې ده، خو بیا هم دې پروګرام ورو مګر دایمي پرمختګ کړی دی. تر اوس مهاله، درې تضمینه په مجموعي توګه تر دې پروګرام له لارې صادر شوي دي چې د کرهنې، داو جوړونې، مالي او مخابراتو سکتورونه پکښې ګډون لري. ددې پروګرام لاندې ټوله پانګه اچونه کابو ۱۰۴ میلیونه ډالره ده چې په پایله کې یې ۸۳۰ نوي کارونه منځ ته راغلي دي.